پۀ 6 اګست، کال 2026ء (بمطابق: 22 صفر شريف، کال 1448ھ) د پاکستان پۀ هفته وارو اِجتماعاتو کښې کېدونکے بیان

# اعلیٰ حضرت رَحْمَۃُ اللهِ عَلَیْه با عمله عالِم

(پۀ اعلي حضرت باندې د خدائے فضل او د تائيد رباني بيان)

پۀ دې بيان کښې به تاسو زده کړئ...

- ---اعلیٰ حضرت رَحْمَۃُ اللهِ عَلَیْه او تائیدِ رَبَّاني
- ---د سادګۍ او عاجزۍ والا
- --- د وفات پورې صاحبِ ترتيب
- --- د اعلیٰ حضرت رَحْمَۃُ اللهِ عَلَیْه سره محبت کوئ!

پیشکش

اَلْمَدِیْنَۃُ الْعِلْمِیَہ

Islamic Research Center

FOR FEEDBACK
(+92) 315 2692 786

(شعبہ: بیاناتِ دعوتِ اسلامی)

GET MORE SPEECHES
(+92) 310 8882 033

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ؕ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى خَاتَمِ النَّبِيّٖنَ ؕ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ؕ

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا رَسُوْلَ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا حَبِيْبَ الله

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا نَبِيَّ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا نُوْرَ الله

نَوَيْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِكَافِ (ترجمه: ما د سُنَّت اعتکاف نِيَّت اوکړو)

## د دُرُودِ پاک فضيلت

د الله پاک ولي، عاشقِ نبي، نائبِ غوثِ جلي، مجدّدِ دينِ مصطفوي، سيدي و مُرشِدي اعلیٰ حضرت الشاه امام احمد رضا خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په خپله مشهور مجموعه فتاویٰ اَلْعَطَايَا النَّبَوِيَّةُ فِي الْفَتَاوَى الرَّضَوِيَّةُ المَعروف فتاوٰی رضويه په 23 جلد کښې يو ډېر ښکلے روايت نقل کړے دے- ليکلي يې دي چې

حضرت ابو مواهب رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي چې ما د الله پاک اخري نبي، مکي مَدَني، مُحَمَّدِ عربي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خوب کښې وليدلو، نو نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خوب کښې ما ته وفرمائيل: اے ابو مواهبه د قيامت په ورځ به تهٔ د يو لاکھ بندګانو شفاعت کوې، ما عرض اوکړو: يا رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! زهٔ څنګه د دې قابل شوم؟ نو رسولِ اکرم، نُورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد وفرمائيلو: تهٔ چې په ما باندې کوم درود هم لولې د هغې ثواب هم ماته راکوې (دا شان د هٔغه نيک او اعلیٰ عمل نتيجه ده)- (1)

---

1…فتاویٰ رضويه، جلد:23، صفحه:123122-

| | |
|---|---|
| مجھ سے بے کس کی دولت پہ لاکھوں درود | مجھ سے بے بس کی قوت پہ لاکھوں سلام |
| ہم غریبوں کے آقا پہ بے حد درود | ہم فقیروں کی ثَروَت پہ لاکھوں سلام (1) |

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

# د بیان اوربدلو نیتونه

پۀ حديثِ پاک کښې دي: اِنَّمَا الْاَعْمَالُ بِالنِّيَّات د اعمالو دار و مدار پۀ نيتونو دے۔ [2]

اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! پۀ ښو ښو نيتونو د عمل ثواب زياتيږي۔ راځئ چې د بيان اوريدو نه مخکښې څۀ ښه ښه نِيَّتونه اوکړو: مَثَلاً ◈ د الله پاک د رضا د پاره به ټول بيان اورم ◈ پۀ اَدب به کښېنم ◈ ښه پۀ توجُّه به بيان اورم ◈ څۀ چې واورم، د هغې به د يادولو، پخپله پرې د عمل کولو او نورو ته د رَسولو کوشش کووم۔

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! نن 22 صفر شريف دے۔ پۀ 25 صفر شريف ◈ د عاشقانو د اِمام ◈ د سُنيانو د اِمام ◈ با عمله عالِم بلکې د با عمله عالِمانو د اِمام ◈ د عابدانو د اِمام ◈ د زاهدانو د اِمام ◈ د تقویٰ دارو د اِمام ◈ د مُجدِّد، مُفَسِّر، مُحَدِّث، د ډير لوئي عالِم، د ډير قابل مفتي، د قرآنِ پاک د حافِظ ◈ او د ټولو نه زيات دا چې د مصطفٰے جانِ رحمت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ربښتوني عاشق يعني د اعلیٰ حضرت اِمام احمد رضا خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه عُرس

---

1…حدائقِ بخشش، صفحه:298297 ملتقطاً۔

2… بخاری، کتاب بدء الوحی، صفحه:65، حدیث:1۔

مبارک دے۔

اَلْحَمْدُلِلّٰه! هغوئي د داسې شان عالِم وو چې ◈ هغوئي د فتنو سَر قَلم کړو ◈ د بد مذهبۍ زور يې مات کړو ◈ بدې عقيدې يې ختمې کړې ◈ د اصلي اِسلامي عقيدو يې صحيح تشريح اوکړه ◈ د اِسلامي عقيدو ◈ د اِسلام د اعلیٰ تعليماتو ◈ د قرآنِ کريم د عزت او حُرمت ◈ د رسولِ اکرم، نُورِ مُجَسَّم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د عزت او ناموس څوکيداري يې اوکړه ◈ بِدعتونه يې ختم کړل ◈ سُنَّت يې عام کړل ◈ د معاشرې اِصلاح يې اوکړه ◈ خلقو له يې د عشقِ رسول ډک ډک جامونه ورکړل او ◈ اَلْحَمْدُلِلّٰه! د دِين جنډه يې اوچته کړه۔

| | |
|---|---|
| تُو نے باطِل کو مِٹایا اے امام احمدرضا! | دِین کا ڈَنکا بَجایا اے امام احمد رضا! |
| زور باطِل کا، ضَلالت کا تھا، جس دَم ہند میں | تُو مجدِّد بَن کے آیا، اے امام احمدرضا! |
| اہلِ سنّت کا چمن سر سبز تھا، شاداب تھا | تازگی تُو اور لایا، اے امام احمد رضا! |
| تُونے باطِل کو مِٹا کر دِین کو بخشی جِلا | سنّتوں کو پھر جِلایا اے امام احمدرضا![1] |

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د اللّٰه پاک مدد او تائيد

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! د ځينو خلقو په ذِهن کښې دا خبره راتلے شي چې ◈ په يو اِنسان کښې دومره خوبيانې څنګه کيدے شي؟ ◈ بالکل يواځې يو اِنسان څنګه

[1]... وسائلِ بخشش، صفحه:525۔

دومره کارونه کولے شي؟ ◈ څنګه یو اِنسان د دومره فتنو مقابله کولے شي؟

اَلْحَمْدُلِلّٰه! دا هر څۀ د الله پاک پۀ تائید او مدد سره بے شکه چې ممکن دي۔ الله پاک د 28 سیپارې، د سورۀ مُجَادَله پۀ آیت: 22 کښې فرمائي:

| | |
|---|---|
| اُولٰٓىٕكَ كَتَبَ فِیْ قُلُوْبِهِمُ الْاِیْمَانَ وَ اَیَّدَهُمْ بِرُوْحٍ مِّنْهُؕ<br>(پاره:28، سورۀ مجادله:22) | [مفهوم] ترجمۀ کنزُ العِرفان: دا هُغه خلق دي د کومو پۀ زړونو کښې چې الله اِیمان نقش کړو او له خپله طرفه یې د رُوح پۀ ذریعه د هغوئي مدد اوکړو۔ |

یعنې څوک چې د کامِل اِیمان والا دي، د چا چې پۀ خپل رَبِّ کریم باندې باور دے، د هغۀ پۀ تائید او مدد باندې یقین لري، بیا الله پاک هم (1): د هغوئي پۀ زړۀ باندې اِیمان نقش کوي (2): د خپل طرف نه د یو رُوح (مثلاً رُوحُ القدس حضرت جبریل عَلَیْهِ السَّلَام) پۀ ذریعه، د هغوئي خاص مدد او تائید کوي۔ [1]

## اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَیْه او تائیدِ رَبَّاني

اَلْحَمْدُلِلّٰه! دا دواړه صفتونه (1): مضبوط اِیمان (2): تائیدِ رَبَّاني (یعنې د الله پاک خاص مدد او نصرف) د اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَیْه پۀ پاک سیرت کښې یو ځائے یو ځائے روان دي۔ مثلاً ◈ صرف د 4 کالو پۀ عمر کښې چې ماشوم صحیح خبرې هم نشي کولے، اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَیْه د قرآنِ کریم ناظره ختمه کړې وه ◈ د د شپږ یا اووۀ کاله پۀ عمر کښې

---

1 …تفسیر قرطبی، پاره:28، المجادله، زیرِ آیت:22، جلد:9، جز:17، صفحه:192 ملتقطًا۔

هغوئي د ډېرو علمائے کرامو او مشائخو پهٔ موجودګۍ کښې خلقو ته تقرير کولو ◈ د 8 کالو پهٔ عمر کښې هغوئي د درسِ نظامي د عربۍ پهٔ کتاب باندې، پهٔ عربۍ ژبه کښې حاشيه ليکله [1] ◈ د 13 کالو 10 مياشتو 4 ورځو عمر مبارک کښې هغوئي ورومبۍ فتویٰ وليکله او باقاعده د مفتي پهٔ مسند باندې تشريف فرما شو [2] ◈- د زړۀ د صفايۍ د پاره **صوفيائے کرام فرمائي چې** د 80 کالو محنت پکار دے- [3] دا خوبي هغوي رَحْمَةُاللهِ عَلَیْه ته د 22 کالو پهٔ عمره کښې حاصله شوي وه چې هغوئي رَحْمَةُاللهِ عَلَیْه د شاه آلِ رسول رَحْمَةُاللهِ عَلَیْه پهٔ خدمت کښې د بيعت د پاره حاضر شو، نو حضرت شاه آلِ رسول رَحْمَةُاللهِ عَلَیْه هغوي ته نهٔ صرف بيعت ورکړو بلکه خپل خِلافت يې هم ورعطا کړو او حاضرينو ته يې وفرمائيل: احمد رضا صفا سوتره زړۀ راوړے دے او بالکل تيار راغلے دے، دۀ ته خو صرف د نسبت ضرورت وو- [4]

ایک سچا عاشقِ نورِ مجسّم بولیے | اُن کو اُن کے عہد کا سالارِ اعظم بولیے
جن سے ہوں آباد علم و آگہی کی بستیاں | ہیں جنم لیتی کئی صدیوں میں ایسی ہستیاں

*—*—*—*

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| خائفِ | کبریا | ہیں رضا، ہیں رضا | عاشقِ | مصطفےٰ | ہیں رضا، ہیں رضا |
| صوفیِ | باصفا | ہیں رضا، ہیں رضا | صاحبِ | اِتّقا | ہیں رضا، ہیں رضا |

1… فيضانِ اعلیٰ حضرت ، صفحه:85 و 86 ملتقطًا خلاصةً-

2… حياتِ اعلیٰ حضرت، صفحه:171-

3… ملفوظاتِ اعلیٰ حضرت، صفحه:59-

4… فيضانِ اعلیٰ حضرت، صفحه:317 خلاصةً-

| | | |
|---|---|---|
| عاشقِ اولیا | ہیں رضا، ہیں رضا | زینتِ اَتْقیا ہیں رضا ،ہیں رضا[1] |

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## پهٔ لالټين کښې د زَنډو تېل

**خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** عالِم کېدل ډېره د شان خبره ده خو د عالِم د پاره د ټولو نه اهمه خبره دا ده چې هغه با عمله وي- خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: هِمَّةُ الْعُلَمَاءِ الرِّعَايَةُ يعنې د عِلم والؤ دا ذمه واري ده چې (د هغهٔ پهٔ قول او فعل کښې تضاد نهٔ وي بلکې) هغه پهٔ خپل عِلم باندې عمل اوکړي-[2]

اَلْحَمْدُلِلّٰه! اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللّٰہِ عَلَیْہ يو با عمله عالِمِ دِين وو- راځئ يوه واقعه اورو :د هغوئي رَحْمَةُ اللّٰہِ عَلَیْہ پهٔ وخت کښې بجلي ډېره عامه نهٔ وه، خلقو به ډيوې او لالټين (***Lantern***) وغيره بلولو- پهٔ لالټين باندې پهٔ اسانیِ سره ځان داسې پوهه کړئ چې دا يو وړوکے شان لېمپ وي، پهٔ کوم کښې چې به تېل اچولے شو- د خلقو معمول دا وو چې پهٔ لالټين کښې به يې د خاورو تېل اچول، د هغې پهٔ بلېدو به بوئي خورېدو، پهٔ ډيوه کښې به زياتره د شړشمو يا د د زَنډو[ارنډو] تېل (کېسټر آئل ***Castor Oil***) اچولے کېدل، د دې به بوئي نهٔ وو- د اعلیٰ حضرت اِمامِ احمد رضا خان رَحْمَةُ اللّٰہِ عَلَیْہ فتویٰ دا ده چې **پهٔ جومات کښې د خاورو تېل بلول جائز نهٔ دي ځکه چې جومات د بد بوئي نه بچ کول واجب دي-** [3]

---

1 ...وسائلِ فردوس، صفحه:62 ملتقطاً-

2...جامع صغير، صفحه:570، حديث:9598 تنوير شرح جامع صغير، جلد:11، صفحه:24-

3 ...فتاویٰ رضويه، جلد:8، صفحه:102 مفهوماً-

ځکه د اعلیٰ حضرت رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه چې کوم جومات وو، په هغې کښې به لالټېن نۀ بلولے کېدو، ډيوه به لګولے کېدله- يو ځل داسې وشو چې شپه وه، باران هم ورېدو او سيلئ هم لګېده- په داسې حالت کښې ډيوه بلېدل مشکل وو، ډيوه به يـې لګوله بيا به مړه کېدله، بيا به يـې لګوله بيا به مړه کېدله- په بيا بيا لګولو کښې دا مشکل هم وو چې د ماچس په تيلي کښې هم ګوګړ وي، د دې په بلولو هم د يو څو سيکنډو د پاره بوئې ځي، ځکه ماچس هم په جومات کښې بلول منع وو- بيا باران، سيلئ، په داسې حالت کښې بيا بيا د جومات نه بهر وتل، په ماچس باندې ډيوه بلول، بيا ډېر په احتياط سره دننه راوړل ډېر مشکل کار وو-

د اعلیٰ حضرت خادِم حاجي کفايتُ الله صاحب د دې حل څۀ دا راوېستو چې لالټېن يـې راواخستو او په هغې کښې يـې د خاورو د تېلو په ځائے د زَنډو تېل (کېسټر آئل ***Castor Oil***) واچول د پاره د دې چې بوئې ترې نۀ ځي، دا لالټېن يـې بَل کړو او په جومات کښې يـې کېښودو- په لالټېن کښې شيشه لګېدلې وي، ځکه هغه په سيلئ باندې نۀ مړ کيږي-

اعلیٰ حضرت رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه چې جومات ته تشريف راوړو او لالټېن يـې وليدو نو په جلال کښې يـې وفرمائيل: حاجي صيب! تاسو به څو ځله دا مسئله اورېدلې وي چې په جومات کښې بد بوداره تېل بلول نۀ دي پکار- عرض يـې اوکړو: حُضُور! په دې لالټېن کښې د زَنډو تېل دي- وه يـې فرمائيل: تېرېدونکي خلق به په دې خبره باندې څنګه پوهيږي؟ هغوئي خو به هم دا وائي چې نورو له فتویٰ ورکولے کيږي چې **په جومات کښې بد بوداره**

تېل مۀ بلوئ او پخپله يې لالټين لګولے دے۔ [1]

نور يـې وفرمائيل: که خوامخا د زنده‌و پۀ تېلو لالټين بلوې نو د دې يوه طريقه ده، د لالټين پۀ خوا کښې ودرېږئ او اواز کوئ چې پۀ دې کښې د زنده‌و تېل دي، پۀ دې کښې د زنده‌و تېل دي، د پاره د دې چې تېرېدونکي بد ګمانه نۀ شي- حاجي کفايتُ الله صاحب چې دا خبره واورېدله نو پۀ حکم باندې يـې فوراً عمل اوکړو او لالټين يـې مړ کړو- [2]

تمهاری شان میں جو کچھ کہوں اُس سے سِوا تم ہو
قَسیم جامِ عِرفاں اے شَہ احمد رضا تم ہو
عیاں ہے شانِ صدیق تمہاری شانِ تَقْویٰ سے
کہوں اَتْقٰی نہ کیوں کر جبکہ خَیرُ الْاَتْقِیاء تم ہو

وضاحت: اے زما پير او مُرشده! ستاسو پۀ شان کښې چې څۀ هم ووايم ،ستاسو شان د هغې نه ډېر زيات اوچت دے، تاسو خو د الله پاک د معرفت جامونو تقسيمولو والا يئ، ستاسو پۀ تقویٰ ليدلو د حضرت صِدِّيقِ اکبر رَضِیَ اللهُ عَنْهُ ياد تازه کيږي، تاسو ته ولې نۀ د ټولو نه زيات متقي او پرهيزګاره وه نۀ وايم؟ تاسو د دې دور د ټولو نه لوئي متقي يئ-

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

[1] … فيضانِ اعلیٰ حضرت، عادات و معمولات، صفحه:121 مفصلاً۔

[2] … فيضانِ اعلیٰ حضرت، عادات و معمولات، صفحه:121 مفصلاً۔

## ډېره ناخوښه خبره

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! د اعلیٰ حضرت رَحۡمَۃُاللہِعَلَیۡہ د سيرت د دې تقویٰ نه د ډکو، دِيني اِحتياطونو د ښکلې ښکلې واقعې نه دا د زدکړې د پاره مېلاؤ شو چې شريعت، دِين، د عِلم خبرې صرف نورو ته د وئيلو د پاره نۀ دي بلکې پخپله د عمل کولو د پاره هم دي، يعنې دِيني خبرې نورو ته بيانول يقيناً چې ضروري دي، البته پۀ دې باندې عمل کول، د دې نه هم زيات ضروري دي- الله پاک پۀ قرآنِ کريم کښې فرمائي:

كَبُرَ مَقۡتًا عِنۡدَ اللّٰهِ اَنۡ تَقُوۡلُوۡا مَا لَا تَفۡعَلُوۡنَ ﴿۳﴾

(پاره:28، سورۀ صف:3)

[مفهوم] ترجمۀ کنزُ العِرفان: د الله پۀ نزد دا ډېره ناخوښه خبره ده چې تاسو هغه ووايئ څۀ چې نۀ کوئ-

معلومه شوه چې نورو ته نصيحت کول، ښې ښې خبرې بيانول او پخپله پرې عمل نۀ کول، ډېره سخته او شديده خبره ده، د الله پاک هيڅکله هم دا خبره خوښه نۀ ده-

## د بے عمله نصيحت کوونکو عذاب

داسې واعظ کوم چې پۀ خپل عِلم باندې عمل نۀ کوي د هغوئي پۀ باره کښې رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: د مِعراج پۀ شپه ما وليدل چې د څينو خلقو شونډې د وور پۀ قېنچيانو پرېکړے کېدلې- جبريلِ امين عَلَیۡہِ السَّلَام ووفرمائيل: يا رسولَ الله صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ! دا ستاسو د اُمت واعظان (يعني نصيحت کوونکي) دي، دوئي به هغه

خبرې کولې، پهٔ کومو باندې به چې يـې پخپله عمل نۀ کولو-[(1)]

اَللّٰهُ اَکْبَر! خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! غور اوکړئ چې دا څومره سخت عذاب دے- مونږ دې پهٔ خپل ځان باندې غور اوکړو، څومره داسې خلق شته کوم چې نورو ته د نصيحتونو ښکلې ښکلې خبرې کوي، ژبه چې ده، د دې لذت ډېر خوندور دے، چې کله دا خبرې کوي نو خوند کوي خو عمل--!! آه! عمل خو پهٔ نفس باندې ګران دے، هډو کولے يې نۀ شي- د اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه د سيرت نه مونږ ته دا خبره مېلاوېږي چې مونږ د ښو خبرو نورو ته د وئيلو او رسولو د حده پورې محدود نۀ شو **بلکې پخپله پرې د عمل کولو عادت هم جوړ کړو-**

عمل کا ہو جذبہ عطا یا الٰہی | گناہوں سے مجھ کو بچا یاالٰہی ( 2 )

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِيْب! صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

## د سُنَّتو پابند

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه پهٔ سختئ سره پهٔ عِلم باندې عمل کوونکے او د سُنَّتو عامِل وو- هغوئي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه به صرف خلقو ته د سنتو تعليم نۀ ورکولو بلکه پخپله به يې هم هر يو کار کښې د سُنَّتو اختيارولو پوره کوشش کولو او پهٔ کوم کوم انداز کښې، پهٔ څنګه څنګه حالاتو کښې به يـې پهٔ سُنَّتو باندې عمل کولو؟

---

[1]… مسند ابی داود طیالسی، جلد:3، صفحه:538، حديث:2172۔

2…وسائلِ بخشش، صفحه:102۔

د سيِّد ايوب علي صاحب رَحْمَةُاللهِعَلَيْه بيان دے: يو ځل د سحر د نمونځ وخت وو، خلق د جَمعې پهٔ انتظار ناست وو، خلافِ عادت نن اعلیٰ حضرت رَحْمَةُاللهِعَلَيْه پهٔ راتلو کښې لږ ناوخته کړو، خلق پهٔ انتظار کښې وو- پهٔ دې کښې اعلیٰ حضرت رَحْمَةُاللهِعَلَيْه زر زر تشريف راوړلو- هُغه وخت مولانا قَناعت علي ما ته ووئيل: پهٔ دې تنګ وخت کښې دا کتل غواړې چې اعلیٰ حضرت رَحْمَةُاللهِعَلَيْه ښى ښپه پهٔ جومات کښې وړومبے ږدي او که ګڅه--!! اوس زمونږ نظر د هغوئي د ښپو مبارکو طرف ته وو- سُبْحٰنَ الله! قربان شم! د اعلیٰ حضرت رَحْمَةُاللهِعَلَيْه د سُنَّتو سره څومره ناشنا محبت وو ◈ د جومات دونکاچې ته چې کوم وخت ښپه مبارکه رارسي نو ښى ښپه ◈ د جومات پهٔ فرش چې ښپه ږدي نو هم ښى ښپه ◈ د فرش د يوې حصے نه چې بلې حصې ته کومه ښپه رسي نو هغه هم ښى ښپه ◈ وړاندې پهٔ دالان کښې يو صف غوړېدلے وو، پهٔ هغې چې هم ښپه ږدي نو هم ښى ښپه او پهٔ دې باندې يے بس نه کړل ◈ پهٔ هر صف باندې يے وړومبے ښى ښپه کېښودله ◈ د دې پورې چې مِحرَاب ته يے تشريف راوړلو ◈ پهٔ مصله باندې چې يے ښپه کېښودله نو هغه هم ښى ښپه وه-[1]

سُبْحٰنَ الله! خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! سُنَّت خو دا دي چې کله جومات ته داخل شې نو وړومبے ښى ښپه دننه کېږدې، د اعلیٰ حضرت رَحْمَةُاللهِعَلَيْه د سُنَّت سره محبت ته وګورئ چې څومره هم تادي وي، پهٔ ظاهره د بے خيالۍ ډېر امکان وي خو ◈ د هغوئي پهٔ سوچونو کښې ◈ د هغوئي پهٔ عادتونو کښې ◈ د هغوئي پهٔ خيالونو کښې به هر وخت د سُنَّتو تصورات اوسېدل، پهٔ داسې تادۍ کښې هم د جومات پهٔ هره هره حصه باندې د ښى ښپې

[1] ... فيضانِ اعلیٰ حضرت، صفحه:425۔

نه شروع کوي-

کاش چې زمونږه هم د جومات داسې ادب نصيب شي-آه! نن سبا خو حالات ډېر خراب شوي دي، خلقو ته د جومات د احترام ډېره کمه پته وي- ◈ جومات ته د داخلېدو سُنَّت څۀ دي؟ ◈ د جومات نه د بهر وتلو سُنَّت څۀ دي؟ ◈ جومات کښې د ايسارېدو سُنَّت څۀ دي؟ ډېرو کمو خلقو ته د دې معلومات وي، بيا حالاتو ته هم وګورئ چې ◈ څوک په جومات کښې خبرې کوي ◈ څوک تېزې تېزې خبرې کوي ◈ فضول ګپونه لګوي ◈ ميوزيکل ټيونز په جومات کښې غږېږي- اَلۡحَمۡدُ لِلّٰه! جومات د شېطان نه د بچ کيدو مضبوطه قلعه ده خو افسوس چې مونږ سُنَّت نۀ اختياروو نو دلته هم د نفس او شيطان په جال کښې انښلو، افسوس! ◈ اوس خو په جوماتونو کښې جنګ جګړې هم کيږي ◈ غيبتونه هم کيږي ◈ چغلياني هم کيږي ◈ توقې تقالې هم کيږي- حديثِ پاک واورئ! او سوچ اوکړئ، عبرت حاصل کړئ چې دا څومره سخته ګناه ده-

## د دوئي د الله پاک سره هيڅ کار نشته

◈ اخري نبي، مُحَمَّد عربي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: په خلقو باندې به يوه زمانه داسې راشي چې په جوماتونو کښې به د دُنيا خبرې کيږي، تاسو د هغوئي سره مۀ کښېنئ ولې چې د هغوئي د الله پاک سره هيڅ کار نشته-[1] په حديث پاک کښې دي:اَلضِّحۡكُ فِى الۡمَسۡجِدِ ظُلۡمَةٌ فِى الۡقَبۡرِ يعني په جماعت کښې خندل په کښې تيارۀ (راولي).[2]

---

1… شُعَبُ الايمان ج ۳ ص ۸۷ حديث ۲۹۶۲-

2… جامع صغير، صفحه:322، حديث:5231-

# مُباح خبرې نېکۍ خوري

حضرت ملّا علي قاري رَحۡمَةُاللّٰهِ عَلَيۡه نقل فرمائي: اَلۡكَلَامُ الۡمُبَاحُ فِي الۡمَسۡجِدِ مَكۡرُوۡهٌ يَاكُلُ الۡحَسَنَاتِ۔ يعنې په جومات کښې مُباح (جائز) خبرې کول مکروهِ (تحريمي) دي او نېکۍ خوري۔ [1]

خورو او محترمو اِسلامي ورونو! مونږ له د جومات احترام کول پکار دي ◈ جومات د الله پاک کور دے ◈ د عبادت ځائے دے ◈ د الله پاک په ياد کښې د ورکېدو ◈ د دُنيا نه د جدا کېدو او د خپل رَبّ طرف ته د مائله کېدو ځائے دے ◈ که په داسې مقدس ◈ داسې پاک ◈ او ډېر د اوچتې مرتبې ځائے کښې هم مونږ ګناه کوو، بے ادبۍ کوو نو اخر په کوم ځائے کښې به تيک کيږو---؟ ځکه د جومات د احترام عادت جوړ کړئ!

د جماعت د ادابو او احترام په باره کښې د نور معلوماتو حاصلولو دپاره د امير اهلسنت مولانا محمد الياس عطار قادري دَامَتۡ بَرَكَاتُهُمُ الۡعَالِيَه يو ډېر ښکلے کتاب فيضان نماز(د فيضان سنت جلد:3يو باب) مسجد کے فضائل مطالعه کړئ اِنۡ شَآءَ اللّٰهُ الۡكَرِيۡم! که الله پاک وغوښتل نو کافي علم دين به درته د زدکړې دپاره ميلاؤ شي . تاسو دا کتاب د مکـتبة الـمدينه د يوې څانګې نه حاصل کړئ.يا يې د دعوت اسلامي د ويب سائټ www.dawat e islami.net نه فري ډاونلوډ کړئ - پخپله يـې هم ولولئ او نورو له هم د دې ترغيب ورکړئ!

[1] …(مرقاة المفاتيح ج ٢ ص ٤٤٩)۔

الله پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفیق راعطا کړي۔

اٰمِیْنْ بِجَاہِ خاتَمِ النَّبِیّٖن صلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

## پۀ ښي لاس باندې به يې لين دېن کولو

د اعلیٰ حضرت اِمام اهلِسُنَّت اِمام اَحمد رضا خان رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه عادت مبارک وو چې پۀ ښي لاس باندې به يې هر څۀ ورکول او اخستل۔ مَلِکُ العُلماء، خلیفه و شاګردِ اعلیٰ حضرت مفتي سیِّد محمد ظفَرُ الدین بِهاري رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه پۀ خپل کتاب حیاتِ اعلیٰ حضرت کښې لیکلي دي: که چرې چا له به يې څۀ څیز ورکولو، او هغوئي به کڼ لاس د اخستو د پاره راوړاندې کړو نو اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه به فوراً خپل لاس مبارک ورستو کړو او فرمائیل به يې، پۀ ښي لاس باندې يې واخلئ، پۀ کڼ لاس باندې شیطان اخستل کوي۔ [1]

| | |
|---|---|
| سنّتِ نبوی کا تھا اِظْہار یہ اِک اِک عمل | وہ نِفاذِ شرعِ اسلامی میں کرتے تھے پہل |
| اَلغَرض، وہ تھے صفاتِ عالیہ سے مُتَّصِف | اُن کا ہر سیرت نگار اِس کا رہا ہے مُعتَرِف |
| اصل میں وہ تھے تَصَوُّف اور طریقت کے امیں | پھر نہ کیوں اُن کی ہستی قابل صد آفریں |
| تھا نہ تھوڑا بھی تَضاد اقوال اور افعال میں | سنتِ نبوی کی کرتے پیروی ہر حال میں |

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

[1] … ماخوذ از حیاتِ اعلیٰ حضرت، 189/1، مرکز اہلسنت برکات رضا گجرات۔

## هم د ماشومتوب نه با عمله

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** د اولیائے کرامو رَحِمَهُمُ اللهُ عَلَيْهِم یوه ډله ده کومې ته چې **قُطبُ الاِرشاد** وئیلے کیږي۔

قُطب: د وِلایت یوه درجه ده، هُغه کامِل ولي کوم چې د طریقت د ټولو مقاماتو جامِع وي، هغهٔ ته قُطب وئیلے کیږي، قُطب د خپلې زمانې پهٔ ټولو اولیاؤ کښې د جدا شان والا وي، دې ته غَوث هم وئیلے کیږي۔ د اِرشاد معنیٰ ده: د نیکۍ دعوت ورکول ◈ د ګناه نه منع کول ◈ د خلقو د عقیدو اِصلاح کول ◈ د اَعمالو اِصلاح کول ◈ پهٔ معاشره کښې د موندلے کیدونکو بدو ټیک کول، دا هر څهٔ د اِرشاد پهٔ ضِمن کښې راځي۔ اوس د قُطبُ الاِرشَاد معنیٰ جوړیږي: د خپلې زمانې د ټولو نه لوئې مُصلِح مِلَّت (یعنې د اُمت اِصلاح کوونکے)، د خپلې زمانې د اولیاؤ سردار۔ [1] اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د خپل وخت قُطبُ الاِرشَاد وو۔ [2]

د دې نخښې هم د ماشومتوب نه ظاهریدل شروع شوي وې۔ وهغوي د ماشومتوب پخپله هم باعمله وو او نورو ته به يې هم د باعمله جوړیدو تبلیغ فرمائیلو .د هغوئي د ماشومتوب واقعه مشهوره ده۔ یو ځل اُستاذ صاحب پهٔ مدرسه کښې ماشومانو ته سبق ښودلو، اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه هم پهٔ هُغه ماشومانو کښې موجود وو، پهٔ دې کښې یو ماشوم کلاس ته راننوتو، هغهٔ اُستاذ صاحِب ته سلام اوکړو، د اُستاذ صاحب د خُلې نه ووتل:

---

[1] ...فتوحات، جلد:3، صفحه:297۔

[2] ...فیضانِ اعلیٰ حضرت ، صفحه:324 بتغیر۔

**ژوندے اوسي**- دا يــې چې واورېدل نو اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه حېران شو، د اُستاذ صاحِب پۀ خِدمت کښې يــې عرض اوکړو: اُستاذِ مُحترم! د سلام پۀ جواب کښې خو **وَعَلَيْكُمُ السَّلَام** وئيل پکار دي-

اُستاذ صاحب هم نېک اِنسان وو، هغوئي چې د ورکوټي مبلغ پۀ ژبه اِصلاحي جمله واورېدله نو خفه نۀ شو بلکې خوشحاله شو او خپل قابل شاګرد ته يــې ډېرې دُعاګانې اوکړې- (1)

وہ جس کے زُہد و تقویٰ کو سراہا شان والوں نے
کہا یُوں پیشواؤں نے ہمارا پیشوا تم ہو
حقیقت ہے ملے ہیں دین و ایماں آپ کے گھر سے
شریعت کے مُحافِظ اے شہِ احمد رضا تم ہو

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د سادګۍ او عاجزۍ والا

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** حضرت مالِک بنِ دِينار رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه فرمائي:

اِنَّ الْعَبْدَ اِذَا طَلَبَ الْعِلْمَ لِلْعَمَلِ كَسَرَهٗ عِلْمُهٗ

**ترجمه**: بے شکه کله چې اِنسان عِلم د عمل پۀ نيت حاصلوي نو د هغۀ عِلم هغه د عاجزۍ

[1]... حياتِ اعلیٰ حضرت، جلد: 1، صفحه: 107 بتغير۔

او اِنکساری والا جوړوي- (1)

ګويا مخلص عالم چي څومره علم لري هم هغه همره به عاجزي کوونکے وي.زمونږه پير او مُرشِد اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه ◈ د چا منونکي او محبت کوونکي چي پۀ کروړونو دي،د يوې اندازې مطابق د 100 نه پۀ زياتو علومو باندې پوهه لرله ◈ تقريباً زر [1000] کتابونه ليکونکے ◈ د قرآنِ کريم ترجمه کنز الايمان شريف ◈ د فقه حنفي د 33 جلدونو انسائيکلو پيډيا **فتاوٰی رضويه شريف** ◈ حدائق بخش، چې چا ليکلي دي- باوجود د دې نه چې هغوئي پۀ علوم او فُنون او د تحقيق پۀ دُنيا کښې مثال نۀ لرلو- دومره مُريدان، دومره خلفاء، دومره محبت کوونکي، خو هغوئي د ساده طبيعت والا، او بے حده د عاجزی او اِنکساری والا وو-

منقول دې چي اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه د شان او شوکت ژوند تېرولو نه ډېر لرې وو، هغوئي به چرې هم قيمتي جامې، قيمتي عَبا، قيمتي پټکے وغيره نۀ استعمالولو، نۀ يـې خاص د مشاءِخو پۀ شان انداز لرلو، د دې وجې نه به بعضې وخت د هغوي د ذات نه ناشنا خلقو د هغوئي پۀ پيژندلو کښې دوکه کېدل- (2)

مصطفٰے کا وہ لاڈلا پیارا | واہ کیا بات اعلیٰ حضرت کی
غوث اعظم کی آنکھ کا تارا | واہ کیا بات اعلیٰ حضرت کی

1…تاريخ مدينه دمشق، جلد:56، صفحه:433-

2…فيضانِ اعلیٰ حضرت، صفحه:200 بتصرف-

| | |
|---|---|
| اس کی ہستی میں تھا عمل جَوہر | سنّتِ مصطفٰے کا وہ پیکر |
| عالِمِ دین، صاحبِ تقویٰ | واہ کیا بات اعلیٰ حضرت کی (1) |

د عربۍ يو شاعر وئيلي دي:

| | |
|---|---|
| اَلْعِلْمُ حَرْبٌ لِلْفَتَى الْمُتَعَالِيْ | كَالسَّيْلِ حَرْبٌ لِلْمَكَانِ الْعَالِيْ |

**ترجمه:** د عِلم د هغه ځوان سره دښمني ده کوم چې تکبر کوي لکه څنګه چې د سېلاب د دنګ کور سره دښمني وي- (لباب الاحياء، ص: 33)

## د ګرځېدو انداز

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! الله پاک په قرآنِ کريم کښې اِرشاد فرمائي:

| | |
|---|---|
| وَعِبَادُ الرَّحْمٰنِ الَّذِيْنَ يَمْشُوْنَ عَلَى الْاَرْضِ هَوْنًا (پاره:19، سورۀ فرقان:63) | [مفهوم] ترجمهٔ كنزُ العِرفان: او د رحمٰن بندګان کوم چې په زمکه په قلاره قلاره ګرځي-" |

يعني د کامِل اِيمان والؤ د خپل نفس سره معامله دا وي چې هغه خلق په اِطمېنان او عزت سره، په عاجزۍ په زمکه باندې په قلاره قلاره ګرځي- د تکبر په انداز کښې د پېزار نه په اواز وېستو، د ښپو زمکې ته په راچولو او په تکبر سره نۀ ګرځي- (2)

1…وسائلِ بخشش، صفحه:575 ملتقطاً-

2…صراط الجنان، پاره:19، سورۀ فرقان، زيرِ آيت:63، جلد:7، صفحه:49-

اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه پۀ دې آيت باندې پوره پوره عمل کولو، هغوئې رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه چې به کله هم ګرځېدو نو ډېر پۀ عاجزۍ او اِنکسارۍ سره به ګرځېدو- منقول دي چې اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه به د جومات نه واپس تشريف وړلو نو ډېر پۀ قلاره به يې قدم اېښودو او تللو به، داسې به معلومېدله چې هغوئې رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه پۀ هر قدم باندې څۀ لولي او ځي، د ګرځېدو پۀ وخت به يې نظر اکثر ښکته ساتلو خو کله نا کله به يې مخې ته هم کتل- (1)

| | |
|---|---|
| حُسنِ سیرت سے مُزَیَّن تھے امام احمدرضا | مُنفَرِد اُن کے خَصائل اور نِرالی تھی ادا |
| اُن کی جملہ خوبیوں پر خوبیوں کو ناز تھا | کیونکہ اُن کی زندگی کا مُنفَرِد انداز تھا |

## پۀ عاجزۍ او اِنکسارۍ سره اوچت والے مېلاوېږي

کاش چې زمونږه هم عاجزي او اِنکساري نصيب شي ◈ مونږه خو داسې ډېر عالِمان او فاضلان هم نۀ يو ◈ ډېر عبادت ګزار هم نۀ يو ◈ که پۀ اِنصاف سره خپل ځان ته نظر اوکړو نو کېدے شي چې يوه د فضيلت والا خبره هم راته پۀ ځان کښې ښکاره نۀ شي خو افسوس چې يو خو سراسر ګناهګاران يو خو پته نۀ لګي چې خپل ځان څۀ ګڼو- کاش چې مونږ خپل ځان څۀ ګڼل پرېږدو، کاش چې سر ښکته ساتل، خپل ځان بالکل خراب، بے کاره ګڼل او بيا د هغې مطابق د ډېرې عاجزۍ سره ژوند تېرول مو نصيب شي- **پۀ حديثِ پاک کښې دي:** اخري نبي رسولِ هاشمي، مکي مَدَني صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: مَاتَوَاضَعَ اَحَدٌ لِلّٰهِ اِلَّا رَفَعَهُ اللهُ چې څوک هم د الله پاک د پاره عاجزي اِختياروي الله پاک هغۀ ته اوچت والے

1…فيضانِ اعلیٰ حضرت، صفحه:108۔

عطا کوي- [1] پهٔ یو حدیثِ پاک کښې یې فرمائیلي دي: اَلتَّوَاضُعُ لَایَزِیْدُ الْعَبْدَ اِلَّا رِفْعَةً فَتَوَاضَعُوْا یَرْفَعَکُمُ اللّٰهُ عاجزي اِنسان ته صرف هم اوچت والے عطا کوي، پس عاجزي کوئ! اللّٰه پاک به تاسو ته اوچته مرتبه درعطا کړي- [2] اللّٰه پاک دې مونږ ته د عاجزۍ اختیارولو او د تکبر نه د بچ کیدو توفیق راعطا کړي- اٰمِیْن بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

## د وفات پورې صاحبِ ترتیب

خورو او محترمو اِسلامي ورونړو! اعلیٰ حضرت رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ ټول عمر د عِلم او عمل آئینه دار دے، د هغوئي رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ د نـمونځ سره پهٔ خاص توګه محبت او رغبت وو هم دغه وجه وه چې هغوئي به نهٔ یواځې پخپله د جَمعې سره د نـمونځونو پابندي کوله بلکې پهٔ خپلو مُریدانو او متعلقینو کښې به یې هم د جَمعې سره د نـمونځ ښه جذبه راپیدا روله- پهٔ دې باره کښې تربیت فرمائي: چې د پینځهٔ وارو نـمونځونو پابندي ډیره ضروري ده، پهٔ نارینۀ پهٔ جومات او د جَمعې پابندي هم واجِب ده- بے نـمانځهٔ مسلمان ګویا د تصویر پهٔ شان اِنسان دے چې ظاهري شکل یې د اِنسان دے خو هیڅ څه د اِنسانانو کار پکښې نشته- بے نـمانځهٔ هغه نهٔ دے کوم چې هډو نـمونځ نهٔ کوي بلکې کوم چې یو وخت نـمونځ هم قصداً عمداً پریږدي هغه هم بے نـمانځهٔ دے-[3]

---

[1] ... مسلم، کتاب البر و الصلة، باب استحباب العفو...الخ، صفحه:1002، حدیث:2588-

[2] ... الترغیب لابن شاهین، باب فضل التواضع...الخ، صفحه:80، حدیث:236-

[3] ... فیضانِ اعلیٰ حضرت، صفحه:353بتصرف-

اعلیٰ حضرت رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ به بخپله د جمعې سره د نـمونځ خومره خیال ساتلو پهٔ دې باره کښې مولانا حسنین رضا خان رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ لیکلي دي: د هغوئي د همزولو او د ځینو مشرانو د بیان نه معلومه شوه چې هغوئي د ښه بد پوهېدو د عمر نه د جمعې سره د نـمونځ کولو سخت پابند وو، ګویا د بالغ کېدو نه مخکښې هم هغوئي پهٔ اَصحابِ ترتیب خلقو کښې شامل شوے وو او د وفات د وخت پورې هم صاحبِ ترتیب وو۔ [1]

## د صاحبِ ترتیب مطلب

سُبۡحٰنَ اللّٰه! خومره ښکلے شان دے د اعلیٰ حضرت رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ ---! زمونږه اِمام د ماشومتوب نه د اخري وخته پورې صاحِب ترتیب وو۔ د کوم کَس نه چې د شپږو نه کم نـمونځونه قضا شوي وي هغهٔ ته صاحبِ ترتیب وئیلے شي. [2]

| | |
|---|---|
| خوب سختی سے اصولِ دیں پہ کرتے تھے عمل | استقامت ہی تھا ان کی زندگی کا ماحصل |
| معرفت کے نور سے روشن کیا قلبی نظام | وقت پر ہر فرض ہر واجب کا رکھا اہتمام |
| ہرادا تھی مصطفیٰ کے عشق کی آئینہ دار | یعنی ان کی شخصیت تھی ہر طرح سے بے غبار |

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## اعلیٰ حضرت رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ د اُمت خیر خواه

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! اعلیٰ حضرت رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ د اُمت خیر خواه دے۔ د هغوئي پاک

---

1…فیضانِ اعلیٰ حضرت، صفحه: 86۔

2…رد المحتار، کتاب الصلاة، باب قضاء الفوائت، مطلب: فی تعریف الاعادة، جلد: 2، صفحه: 638۔

سیرت چې ولولې نو د سر نه د اخره پورې د هغوئي ټول ژوند مونږ ته د اُمت خېر خواهي، ښېګړه او د ترقۍ د پاره وقف په نظر راځي-

تاسو د هغوئي د خېر خواهۍ د جذبې اندازه د دې خبرې نه ولګوئ چې اعلیٰ حضرت اِمام احمد رضا خان رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَیۡہ خواوشا **زر [1000] کتابونه لیکلي** دي، هغوئي به روزانه صرف **د یوې نیمې نه د 2 ګېنټو پورې** ارام کولو- (1) باقي ټول وخت به یې په لیک لوست، د اُمت په خېر خواهۍ، ښېګړه، اِصلاح او د نورو دیني کارونو په کولو کښې تېرولو-

## د مسلمانانو د خېر خواهۍ په باره کښې نصیحتونه

د مسلمانانو سره د خېر خواهۍ، ښېګړې او خوا خوږۍ اختیارولو په باره کښې د اعلیٰ حضرت رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَیۡہ یو څو نصیحتونه واورئ! هغوئي فرمائي: ◈ د مسلمانانو اِعَانت (یعنې د هغوئي مدد کول) د الله پاک ډېر خوښ دي- **په حدیثِ پاک کښې دي:** الله پاک د خپل بنده د هغه وخته پورې مدد فرمائي، د کومې پورې چې هغه د خپل مسلمان ورور مدد کوي ◈ بغېر د تحقیق نه د یو مسلمان طرف ته د ګناه نسبت کول حرام او دوزخ ته بوتلونکے کار دے (یعنې مونږه بغېر د څهٔ وجهې نه په اورېدلے شوو خبرو کښې په راتلو سره دا نهٔ شو وئیلے چې فلانکے دروغ وائي، فلانکے بے نمانځه دے، فلانکے سود خور دے، مونږ به همېشه د خپلو مسلمانانو ورونو په باره کښې ښه ګمان ساتو) ◈ د مسلمان سپکاوے کول حرام دي ◈ بغېر د څهٔ شرعي وجهې نه جاهل مسلمان ته هم کنځلې کول، د هغهٔ

---

1 ... فیضانِ اعلیٰ حضرت، صفحه:108-

سپکاوے کول حرام دي ◈ د مسلمان ورور سره د درېو شپو نه زیاتي خبرې نهٔ کول نا جائزه او حرام کار دے ◈ د مسلمان ورور توبه (یعنې معافي) قبلول واجِب ده- (یعنې که د یو مسلمان ورور نه څهٔ غلطي وشي، بیا هغه زمونږ نه معافي غواړي نو مونږ دا نهٔ شو وئیلے چې دا د زړهٔ نه معافي نهٔ غواړي، زمونږ د پاره ضروري دي چې د هغهٔ معافي قبوله کړو)-[1]

## د اعلیٰ حضرت رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه د خیر خواهۍ انداز

د اعلیٰ حضرت رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه د خیر خواهۍ انداز ته ګورئ! ◈ د هغوئي عادت مبارک وو چې هر کال به یې د یخنۍ پهٔ موسم کښې برستنې (یعنې د اغوستو د پاره د مالوچو نه ډکې کړے شوې څادرې) نوې ګنډلې او پهٔ غریبانانو به یې تقسیمولې، یو ځل د یخنۍ پهٔ موسم کښې هغوئي برستنې تقسیم کړې وې، د ځان د پاره یې هم نهٔ وې پرېښودې، د هغوئي کشر ورور مولانا محمد رضا خان رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه د هغوئي د پاره یوه خاص برستن جوړه کړه، هغوئي چې څنګه واغوستله نو چا ترېنه سوال اوکړو، هغوئي فوراً هُغه برستن کوزه کړه او هُغه غریب له یې ورکړه [2] ◈ ذَکاءُ الله صاحب د اعلیٰ حضرت رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه خادم دے، یو ځل د یخنۍ موسم وو، اعلیٰ حضرت رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه ګرم څادر اچولے وو، د ماښام نمونځ یې اوکړو، د جومات نه بهر یې تشریف راوړلو، ذَکاءُ الله صاحب یې ولیدو، د هغوئي سره ګرم څادر نهٔ وو، اعلیٰ حضرت رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه فوراً څادر کوز کړو او خپل خادم ته یې ورکړو- د دې واقعې نه دوه یا درې ورځې پس د اعلیٰ حضرت رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه د پاره نوے څادر تیار

---

[1]… فیضانِ اعلیٰ حضرت (عیسیٰ رضوی)، صفحه: 200197 ملتقطاً-

[2]… فیضانِ اعلیٰ حضرت، صفحه: 176175-

کړے شو، قربان شم! هغوئي هٔغه نوے څادر واچولو او جومات ته لاړو، هلته يې يو مسافر وليدو، د هغه سره کْرم څادر نهٔ وو، هغوئي هٔغه نوے څادر کوز کړو او هٔغه نا اشنا مسافر له يې ورکړو- (1)

سُبْحٰنَ الله! څومره عظيم شان دے، څنګه سخاوتونه دي، ځپله به يې يخني کيږي، ځان به پهٔ مشقت کښې اچوي، د دې ورسره هيڅ غم نشته، چې مسلمان ورور پهٔ سخته کښې راګير نهٔ شي، د دې ورسره ډير زيات غم وو-

د اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه يو بل انداز مبارک ته وګورئ! هغوئي د خپلو ◈ عزيزانو ◈ خپلوانو ◈ ملګرو او ◈ خاص خاص مُريدانو د نومونو يو اوږد لسټ جوړ کړے وو- د سحر د نـمونځ نه پس او د اورادو او وظيفو پهٔ اخره کښې به يې د هٔغه ټولو نومونه اخستل او دُعا به يې ورته کوله- سيّد ايوب علي صاحب فرمائي چې يوه ورځ زهٔ ډير پريشانهووم، د اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه پهٔ دربار کښې مې د دُعا د پاره عرض اوکړو، هغوئي دُعا اوکړه او ورسره ورسره يې ما او زما ورور سيد قناعت علي ته وفرمائيل: ستاسو د دواړو نومونه ما د دُعا پهٔ لسټ کښې شامل کړي دي کوم چې پهٔ ورو ورو ډير اوږد شوے دے، دا ټول نومونه ما ته ياد دي، روزانه د هر نوم پهٔ اخستو د ټولو د پاره دُعا کووم- (2)

| | |
|---|---|
| مصطفیٰ کا دُلارا ہمارا رضا | غوثِ اعظم کا پیارا ہمارا رضا |
| جس کو سب اچھّے کہتے ہیں اچھّے میاں | ہے اس اچھّے کا اچھّا ہمارا رضا |

---

1 ... فيضانِ اعلیٰ حضرت، صفحه:176۔

2 ... فيضانِ اعلیٰ حضرت، صفحه:180۔

غم نہیں حشر سے مجھ کو کچھ اے مُحِبّ! | ہے مدد کرنے والا ہمارا رضا

اللّٰه پاک دې مونږ ته د مسلمانانو د خير خواهۍ کولو توفيق راعطا کړي۔

اٰمِيْن بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه سره محبت کوئ!

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! مونږه واورېدل چې اِمام احمد رضا خان رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه يو زبردسته با عمله عالِمِ دِين وو۔ مونږ له پکار دي چې د داسې ښه کردار والا عالِم سره محبت اوکړو ولې چې د داسې خلقو سره خو اللّٰه پاک هم محبت فرمائي پۀ روايت کښې راغلي دي: اللّٰه پاک حضرت اِبراهيم عَلَيْهِ السَّلَام ته وحي وفرمائيله چې اے اِبراهيمه (عَلَيْهِ السَّلَام)! اِنِّيْ عَلِيْمٌ اُحِبُّ كُلَّ عَلِيْمٍ عِلم زما صِفت دے، او زۀ د هر عِلم والا سره محبت کووم۔ (1)

ياد ساتئ! د عالم محبت بنده دين داره جوړوي .د مسلمانانو څلورم خليفه حضرت عليُ المُرتضیٰ شيرِ خُدا رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ فرمائي: مَحَبَّةُ الْعَالِمِ دِيْنٌ يُدَانُ بِه يعني د عالِم سره محبت، د دِين (نه ) دے او دا محبت اِنسان دِين ته نزدې کوي۔ (2)

## د عاشقِ رسول د پيژندلو نا اشنا انداز

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! د اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه محبت د سُنّيت،عاشق رسول کيدو علامت دے۔ پۀ مکه مکرمه کښې د مالکي فقهې يو عظيم مفتي وو: علامه شيخ

---

1… جامع بيان العلم و فضله، جلد: 1، صفحه:209، حديث:236۔

2… الجليس الصالح الكافی والانيس الناصح الشافی، صفحه:584۔

سید محمد عَلوِي مَالکي رَحْمَةُاللهِعَلَيْه- هغوئي فرمائي: د مولانا احمد رضا خان برېلوي سره محبت د سُنِّیت علامت دے او د هغوئي سره بُغض او دښمني د بِدعت علامت دے۔ (1)

حضرت علامه قادر بخش سَهسَرامي رَحْمَةُاللهِعَلَيْه ډېر لوئي عالِمِ دِین تېر شوے دے، یو ځل د هغوئي نه خلقو پوښتنه اوکړه چې مونږ ته د عاشقِ رسول سُني او د بد مذهبه د پېژندلو ساده شان طریقه وښایئ! قادر بخش سَهسَرامي رَحْمَةُاللهِعَلَيْه وفرمائیل: د کوم اِنسان په باره کښې چې د دې نه ځان خبرول وي چې دا بد مذهبه دے که عاشقِ رسول دے نو د هغهٔ په مخکښې د مولانا احمد رضا خان صاحب ذِکر شروع کړئ! که په مخ یې خندا راشي نو یقین اوکړئ چې دا عاشقِ رسول سُني دے او که تندے تریو کړي نو پوهه شئ چې بد مذهبه دے۔ (2)

| | |
|---|---|
| جلوہ ہے، نُور ہے کہ سراپا رضا کا ہے | تصویرِ سُنِّیت ہے کہ چہرہ رضا کا ہے |
| اِس دورِ پُرفتن میں نَظَر خوش عقیدگی | سرکار کا کَرَم ہے وسیلہ رضا کا ہے |

وضاحت: د اعلیٰ حضرت رَحْمَةُاللهِعَلَيْه وجود مبارک د الله پاک د انوارو او تجلیاتو مظهر او د هغوئي مخ مبارک د سُنیت نخښه ده، د الله پاک په کرم سره که نن مونږ ته ښه عقیده حاصله ده نو دا د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په کرم سره او د اعلیٰ حضرت رَحْمَةُاللهِعَلَيْه په وسیله باندې حاصله ده۔

الله پاک دې زمونږه د اعلیٰ حضرت رَحْمَةُاللهِعَلَيْه محبت نصیب کړي او د هغوئي په برکت

---

1 … جهانِ امام احمد رضا، جلد:14، صفحه:40 ملخصاً۔

2 … حیاتِ اعلیٰ حضرت، جلد:3، صفحه:274 ملخصاً۔

دې مونږه ته هم د با عمله، د ښهٔ کردار والا رښتوني، پوخ عاشقِ رسول د جوړېدو توفيق راعطا کړي- اٰمِيْن بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## پهٔ 12 دِيني کارونو کښې يو دِيني کار: هفته واره اجتماع

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! د عالِمانو او د اوليائے کرام د محبت حاصلولو دپاره د عاشقانِ رسول د ديني تنظيم دعوتِ اسلامي د ديني ماحول سره تړون ساتئ او پهٔ 12 ديني کارونو کښې هم ښه پوره برخه اخلئ! د دې پهٔ برکت به اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيْم! د دين او دنيا بے شمېره خېرونه درنصيب شي- پهٔ 12 ديني کارونو کښې يو ديني کار: هفته واره اجتماع هم دهٔ-

تاسو ته خواست دے چې تاسو هم پهٔ هفته واره اجتماع کښې پهٔ پابندیٔ سره شرکت کوئ! ◈ پهٔ ديني اجتماع کښې د کېناستو او د ذِکر کوونکو خو به خپل خومره ښکلے شان وي! د حديثِ پاک مطابق څوک چې د دوئي پهٔ خوا کښې کښېني، هغه هم بدبخته نهٔ پاتې کيږي (1)

اَلْحَمْدُ لِلّٰه! پهٔ هفته واره اجتماع کښې ذِکر کيږي ◈ عِلم دِين زده کيږي ◈ پهٔ نېک صحبت کښې کېناستل او ◈ پهٔ جومات کښې وخت تېرول نصيب کيږي ◈ يو اهم برکت دا چې د ديني اجتماع د پاره تلل هم د الله پاک پهٔ لار ه کښې وَتل دي، چې هفته واره

---

[1]... مسلم، کتاب الذکر و الدّعا...الخ، باب فضل مجالس الذکر، صفحه:1037، حديث:2689-

اجتماع ته تشريف راوړئ نو اِنْ شَآءَاللهُ الْكَرِيم! د كور نه د وتلو نه واخله د واپس تللو پورې به ټول وخت د الله پاک پۀ لار كښې شمېرلے كيږي- د هر زيارت پۀ ورځ پۀ پابندئ سره پۀ هفته واره اجتماع كښې د اَوَّل نه د اخره پورې د شركت كولو پوخ نيت اوكړئ!-

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## فتاویٰ رضويه موبائل ايپلي كيشن

اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! اَلْحَمْدُ لِله! د عاشقانِ رسول د دِيني تنظيم دعوتِ اِسلامي ***I.T*** ډيپارټمنټ يو ډېر ښكلے موبائل ايپلي كيشن جاري كړے دے، د كوم نوم چې دے: فتاویٰ رضويه ***(Fatawa Razwia)*** ◈ پۀ دې ايپلي كيشن كښې د فتاویٰ رضويه ټول جلدونه شامل دي او د هر جلد نه لاندې د رسالو او موضوعاتو مختصر فهرست هم شامل كړے شوے دے ◈ د فتاویٰ رضويه ټولې رسالې (كومې چې د اعلیٰ رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه نه د پوښتلے شوو سوالونو پۀ جوابونو كښې ليكلې شوې وې د هغې) بېل فهرست هم موجود دے ◈ پۀ ايپلي كيشن كښې ډېر ښكلے فيچر د ايډوانس سرچ ***(Advanced Search)*** دے، د كوم پۀ ذريعه چې د خپلې خوښې خبره پۀ اسانئ سره سرچ كېدے شي، پۀ يو خاص جلد يا خاص رساله كښې هم د سرچ كولو سهولت موجود دے ◈ پۀ جلد منتخب كولو پۀ هغې كښې د خپلې خوښې صفحې ***(Page)*** ته تللے شئ ◈ د الفاظو فونټ سائز ***(Font Size)*** هم پۀ خپله خوښه ايډجسټ كولے شئ ◈ پۀ ايپلي كيشن كښې د خپلې خوښې خبره پۀ نوټس ***(Notes)*** فيچر كښې ليكلے او محفوظ كولے او د خوښې ***(Favorites)*** پۀ لسټ كښې يې شاملولے او شېئر ***(Share)*** كولے هم شئ-

## يو څو ضروري اِعلانونه

◈ خوېږو او محترمو اِسلامي ورونړو! د هر خالي په ورځ اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه په مَدَني چينل لائيو هفته واره مَدَني مذاكره کوي، د راتلونکي خالي په ورح به هم د ماسخوتن د نـمونځ نه پس تقريباً په پاؤ کم لس [9:45] بجې اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم!هفته واره مدني مذاکره کېږي په کومه کښې چې به اميرِ اهلِسُنَّت مولانا الياس عطار قادري دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د سوالونو جوابونه هم ورکوي- ټول ذِمه داران او عاشقانِ رسول دې په دې مَدَني مذاکره کښې پخپله هم شرکت اوکړي او نورو له دې هم دعوت ورکړي ◈ شيخِ طريقت، اميرِ اهلِسُنَّت هره هفته د يوې ديني رسالې لوستلو ترغيب ورکوي، په راتلونکې هفته واره مَدَني مذاکره کښې به د رساله د اِمامِ غزالي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه قيمتي خبرې اعلان کولے شي- دا رساله پخپله هم ولولئ! نورو له هم د دې ترغيب ورکړئ او څوک چې سوشل ميډيا مثلاً واټس ايپ وغيره استعمالوي هغوئي دې د الله پاک د رضا او د ثواب د پاره دا رساله د نورو سره هم شيئر کړي! ◈ مکـتبة الـمدينه د حضرت داتا ګنج بخش علي هجويري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د سيرت او کراماتو زبردسته رساله فيضانِ داتا علي هجويري چاپ کړې ده- دا رساله د مکـتبة الـمدينه د ييوې څانګې نه په **55** روپۍ په بيعه حاصله کړئ- پخپله يـې هم ولولئ او نورو له هم د دې ترغيب ورکړئ!

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د بيان په اخره کښې د سُنّتو فضيلت او د ژوند د يو څو آدابو بيانولو سَعادت حاصلووم- تاجدارِ رسالت، شهنشاهِ نبوت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: مَنْ اَحَبَّ سُنَّتِىْ فَقَدْ اَحَبَّنِىْ وَمَنْ اَحَبَّنِىْ كَانَ مَعِىْ فِى الْجَنَّةِ چا چې زما د سُنّتو سره محبّت اوکړو هغه

زما سره محبّت اوکړو او چا چې زما سره محبّت اوکړو هغه به په جَنَّت کښې زما سره وي۔ (1)

سینه تیری سُنّت کا مدینه بنے آقا! | جَنَّت میں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

## عاجزي کول سُنَّت دي

د اخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم 2 فرامین مبارک دي: (1): څوک چې د الله پاک د پاره عاجزي کوي، الله پاک هغهٔ ته اوچت والے عطا کوي۔ [2] (2): افضل عبادت عاجزي ده۔ [3]

اے د خوږ نبي صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! عاجزي کول سُنَّتِ مصطفٰے صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ده ◈ زمونږه خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ډېره اوچته مرتبه لري، د الله پاک نه پس د ټولو نه اوچته مرتبه هم د هغوئي ده، د دې سره سره د نبي کريم صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د عاجزیٔ شان هم ځانګړے وو، الله پاک رسول الله صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته اختيار ورکړو چې که غواړي نو د بادشاهانو په شان ژوند تېر کړئ او که غواړي نو د بندګۍ والا، د غريبیٔ ژوند اختيار کړئ، نو رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم بندګي او فقيري اختيار کړه ◈ د خادمانو سره به کېناستو او خوراک به يې ورسره کولو ◈ د غلامانو دعوت به يې قبلولو ◈ د مسکينانو تپوس پوښتنه به يې کوله ◈ د فقيرانو سره به کېناستو ◈ د صحابهٔ کرامو رَضِیَ اللهُ عَنْهُم سره به يو ځائے اوسېدو ◈ خپل کار به يې په خپلو لاسونو مبارکو

---

[1]… تاريخ دمشق، جلد:9، صفحه:343۔

[2]… جَامِع صَغِير، صفحه:522، حديث:8605۔

[3]… شُعَبُ الْاِيْمَان، فصل:فى التواضع، جلد:6، صفحه:278، حديث:8148۔

باندې کولو ◈ که صحابهٔ کرام رَضِیَ اللهُ عَنۡهُم به ور وړاندې کېدل او خدمت کول به يې غوښتل نو فرمائيل به يې: دا رښتيا دي چې تاسو به زما ټول کارونه اوکړئ خو **زما دا خوښه نهٔ ده چې ستاسو ترمېنځه پهٔ خهٔ اِمتيازي شان سره اوسېږم.** [1]

| | |
|---|---|
| کبھی جَو کی موٹی روٹی تو کبھی کھجور پانی | ترا ایسا سادہ کھانا مدنی مدینے والے |
| ہے چٹائی کا بچھونا کبھی خاک ہی پہ سونا | کبھی ہاتھ کا سِرہانا مدنی مدینے والے |
| تری سادگی پہ لاکھوں تری عاجزی پہ لاکھوں | ہوں سلام عاجِزانہ مدنی مدینے والے |

د مختلفو سنتو زده کولو د پاره د مکـتبة الـمدينه د **بهارِ شريعت** جلد: 3 نه حصه نمبر 16 او د شيخ طريقت، امير اهلسنت علامه مولانا ابو بلال محمد الياس عطار قادري رضوي دَامَتۡ بَرَكَاتُهُمُ الۡعَالِيَه د 91 صفحو رساله **550 سنتیں اور آداب** واخلئ او وه يې لولئ! د سنتو زده کولو يوه بهترينه ذريعه د دعوتِ اسلامي پهٔ مَدَني قافلو کښې د عاشقانِ رسول سره د سنتو ډک سفر کول هم دے۔

| | |
|---|---|
| اُلفتِ مصطفٰے اور خوفِ خدا | چاہئے گر تمہیں قافلے میں چلو |
| گر مدینے کا غم چاہئے چشمِ نَم | لینے یہ نعمتیں قافلے میں چلو (2) |

الله پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفيق راعطا کړي.

اٰمِیۡن بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

صَلُّوا عَلَى الۡحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

[1]… سيرت مصطفٰى، صفحه:609606۔

[2]… وسائل بخشش، صفحه:669۔

# د دعوتِ اسلامی هفته واره د سُنَّتو ډکه اجتماع کښې لوستلو والا (6) دُرودِ پاک او (2) دُعاګانې

## ﴾1﴿ د شَبِ جُمعې [يعنې د جُمعې د شپې] دُرُود

اَللّٰهُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدِ نِالنَّبِيِّ الْاُمِّيِّ الْحَبِيْبِ الْعَالِى الْقَدْرِ الْعَظِيْمِ الْجَاهِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَصَحْبِهٖ وَسَلِّمْ

بُزرګانو فرمائيلي دي چې څوک هره شَبِ جُمعه (يعنې د جُمُعې او زيارت پهٔ مينځنۍ شپه باندې) دا دُرُود شريف پهٔ پابندۍ سره کم ازکم يو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ پهٔ وخت کښې د مَدَني آقا صلّى الله عليه واله وسلّم دِيدار کوي او قَبر کښې د داخليدو وخت کښې هُم، تر دې چې مَدَني آقا صلّى الله عليه واله وسلّم به هغه قَبر ته د خپل رَحمت نه ډکو لاسو باندې کوزوي. [1] راځئ چې مونږ هم پهٔ شريکه دا دُرُود ووائيو.

## ﴾2﴿ ټول ګناهونه مُعاف

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا وَمَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى اٰلِهٖ وَسَلِّمْ

د حضرتِ سَيِّدُنا انَس رضى الله عنه نه روايت دے چې مَدَني تاجدار صلّى الله عليه واله وسلّم فرمائيلي دي: څوک چې دا دُرُودِ پاک لوَلي که ولاړ وي نو د کښيناستلو نه مخکښې او که ناست وي نو

[1]...اَفْضَلُ الصَّلاة، صفحه:151، خلاصةً۔

د ودریدلو نه مخکښې به د هغهٔ ګناهونه مُعاف کړے شي. [1] راځئ چې مونږ هم پهٔ شریکه دا دُرُود ووائیو.

## ﴿3﴾ د رَحمت اویا دروازې:

صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

خوک چې دا دُرُودِ پاک لوَلي پهٔ هغهٔ به د رَحمت اویا دروازې برسیره کړے شي. [2] راځئ چې دا دُرُود هُم پهٔ شریکه ووائیو.

## ﴿4﴾ د شپږ لاکه دُرُودشریف ثواب

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِيْ عِلْمِ اللّٰهِ صَلَاةً دَآئِمَةً بِدَوَامِ مُلْكِ اللّٰهِ

حضرت اَحمَد صَاوِی رحمۃ اللہ علیہ د بَعضو بُزرګانو نه نَقل کوي: د دې دُرُود شریف یو ځل لوستلو باندې د شپږو (6) لاکو دُرُود شریف لوستلو ثواب حاصِلیږي. [3] راځئ چې پهٔ شریکه یې ووائیو.

## ﴿5﴾ د خوږ مُصطَفٰے صلی اللہ علیہ والہ وسلم قُرب

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ كَمَا تُحِبُّ وَتَرْضٰى لَهٗ

---

1... اَفْضَلُ الصَّلَاة، صفحه:65۔

2... قَوْلُ البَدِيْع، باب ثانی، صفحه:277۔

3... اَفْضَلُ الصلاة، صفحه:149۔

يوه ورځ يو کس راغلو نو حُضُورِ اَنور صلّی اللہ علیہ وآلہٖ وسلّم هغه د خپل ځان او صِدِّيقِ اکبر رضی اللہ عنہ تر مينځه کښينولو، پهٔ دې باندې صَحابَهٔ کرام رضی اللہ عنہم حيران شو چې دا څوک اوچتې مرتبې والا دے! چې کله هغه لاړو نو حضور صلّی اللہ علیہ وآلہٖ وسلّم وفرمائيل: دے چې کله پهٔ ما باندې دُرُودِ پاک لوَلي نو داسې يې لوَلي.[1] راځئ چې مونږ يې هُم پهٔ شريکه ووائيو.

## ﴿6﴾ دُرُودِ شَفاعت

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّاَنْزِلْهُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَكَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

د شفِيعِ اُمَّت صلّی اللہ علیہ وآلہٖ وسلّم فرمانِ مُعَظَّم دے: څوک چې داسې دُرود شريف ولوَلي، د هغهٔ د پاره زما شفاعت واجب شي.[2] راځئ چې دا دُرُود هُم پهٔ شريکه ووائيو.

## ﴿1﴾ د يو زر [1000] ورځو نيکئ:

جَزَى اللّٰهُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا هُوَ اَهْلُهٗ

د حضرتِ سَيِّدُنا ابنِ عباس رضی اللہ عنہما نه رِوايت دے چې مَدَني آقا صلّی اللہ علیہ وآلہٖ وسلّم فرمائيلي دي: د دې د لوستونکي د پاره فرښتے د يو زر [1000] ورځو پورې نيکئ ليکي.[3] راځئ چې مونږ يې هُم پهٔ شريکه ووائيو.

---

1...قَوْلُ البَدِيْع، باب اَوّل، صفحه:125۔

2...الترغيب والترهيب، كِتَابُ الذِّكْر والدُّعَا، جلد:2، صفحه:329، حديث:30۔

3...مَجْمَعُ الزَّوائِد، كِتَابُ الْاَدْعِيَه، جلد:10، صفحه:254، حديث:17305۔

## ﴿2﴾ داسې ده لکه شبِ قدر يـې چې حاصل کړو

د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: چا چې دا دُعا درې ځله ولوستله نو لکه هغۀ چې شبِ قدر حاصل کړو- [1] راځئ چې مونږ هُم دا دُعا په شريکه ووائيو-

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ الْحَلِيْمُ الْكَرِيْمُ ، سُبْحٰنَ اللّٰهِ رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِيْم

(د حِلم او کرم کوونکي **اللّٰه** پاک نه علاوه هيڅوک د عبادت لائق نشته، **اللّٰه** پاک دے، د اووۀ اسمانونو او د عظمت والا عرش رَبّ)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

---

1 ...تاريخ ابنِ عساکر، 155/19، حديث:4415